مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پوهنوال رسول باوری
رالیږونکی: احسان الله اریېنزی

۲۰۲۴/۰۴/۰۳

# لرغونی خروشتهی لیکدود او د هغه خواتی بیلګه

## میدان وردک ولایت د تاریخ په اوږدو کې

## وردک د تاریخ په بهیر کې سیمینار

## اتمه مقاله



په افغانستان كي يو شمير داسي كتيبې او ډبر ليكونه سته چې لا تر اوسه په بشپړه توګه نه دي لوستل سوي ، د بيلګو په توګه په لغمان ولايت كي  اليشنګ كتيبه، د هزار سم څخه تر لاسه سوي يوشمير ليكبڼي او نور يادولای سو، خو د لرغونو زمانو داسي كتيبې، ډبر ليكونه او د ليک بڼي هم سته چې په اړه يې يو شمير بهرنيو او كورنيو پوهانو  زيار ګاللی او د پوهېدو وړيې ګرځولي دي.  د دې  ډلي ليكبڼو څخه يو هم  خروشتهي ليكدود دی چې  ۳۰۰ كاله پخوا تر مېلاد منځ ته راغلی او تر  ۵۰۰  ميلادي كلونو دودو.  دا ليكدود چې د خپل مهال په تاريخي پيښو د پوهېدلو  ګټور او ارزښتمن لاسوند ونه لري، د زيات شمير څېړونكو د پام وړ كرځېدلی او په اړه يې څيړني كړيدي.  په دې  ليكنه كي هڅه سوې چې دخروشتهي ليكدود په اړه درې پوښتني او يوه بيلګه   په لنډه توګه ياد ی كړو.

لومړی دا چې خروشتهي  ليكدود چيري پيدا سوی، د ترويج او تعميم سيمې يې كومي دي؟ دوهمه پوښتنه دا چې د ا يوازي ليكدود و  او  كه ژبه هم وه، كه يوازي ليكدود و  نو د كومو ژبو  ليكبڼه ده ؟ او دريم دا چې د لوستلو لپاره يې چا زيار ګاللئ او د كومو معيارونو پر بنسټ يې د دې ليكدود اوازونه پيداكړيدي؟

لومړی:  خروشتهي ليكدود چيري پيدا سوی  او په كومو سيمو كي  كارول سوېدی؟

تر دې مهاله  چې د لرغونو ليكنو او په ځانګړې توګه  د خروشتهي ليكدود په اړه څيړني تر سره سوي، داڅرګندوي چې خروشتهي ليكدود د اوسني افغانستان په ختيزو سيمو كي منځ ته راغلی او تعميم سوېدئ .  په دې اړه انګليسي نامتو لرغونپوه   ويلسن  ( Wilson, Horace Hay man 1786-1860) په خپل  (لرغوني اريانا) نومي اثر كي ليكي چې :  خروشتهي ليک له اره اريايې ليكدود دی،  چې  د امو  او اباسين  تر منځ سيمو كي رائيج وو. د نامتو ژبپوه كارل  بوهولر  Karl Bühler (1963-1879) په وينا د خروشتهي ليكدود نوم  د هغه ليک د بنسټ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ایښوونکي د نوم څخه اخستل سوېدی چې (خروشته) نومېدی. د نوموړي په باور په خروشتهي ليکدود کي يو شمير ږغونه د براهمي ليکدود څخه را نقل سويدي، په خروشتهي ليکدود کي ږغ لرونکي او بېږغه توري سته چې پخوا په براهمي ليکدود کي هم موجود وه او ښايي خروشتهي ليکدود د براهمي ليکدود تر اغېزي لاندي وده کړې وي؛ خو هغه څه چې څرګند دي هغه د اوسني افغانستان په ختيزو سيمو کي د دې ليکدود پياوړی شتون او همدلته د همدې ليکدود منځ ته راتلل دي.

دوهم : خروشتهي يوازي ليکدود وو او که ژبه هم وه ؟

د بيلا بيلو پوهانو څېړنو ښودلې ده چې خروشتهي يو ځانګړئ ليکدود دی. دې ليکدود ژبه نه درلوده، د هغه مهال ليکوالو د مروجو ژبو د ليکښي په توګه کار ولی دی. د هغو کتيبو او ډبر ليکونو څخه چې په بيلا بيلو زمانو او سيمو پوري اړه لري، دا څرګنده سوېده چې د همدې ليکدودپه مرسته د يوناني، سانسکريت، پارا ګريت او نورو ژبو مفاهيم او مطالب ليکل سويدي. راپسون نامتو ژبپوه Rapson EJ(1861-1937) د خروشتهي ژبي زيات شمير ليکني، کتيبې، ډبر ليکونه او مسکوکات په خپل (خروشتهي ليک) نومي اثر کي را پيژندلي او څيړلي دي.

په خروشتهي ليکدود ليکل سوي نامتو کتيبو څخه د بيلګي په توګه د صوات کتيبه چې په ۱۸۳۸ زيږديز کال د مسون په وسيله وپيژندل سوه، په باميان کي د ونو پر پوست ليکل سوي ليکني چې په ۱۹۳۰ زيږديز کال وپيژندل سوې، د باجوړ کتيبه چې په ۱۸۸۹ زيږديز کال وموندل سوه. په ۱۸۴۳ زيږديز کال د جلال اباد په بېمارانو کلي کي د ښاغلي مسون په وسيله خروشتهي کتيبه وموندل سوه او په دې ډول په سلګونو نوري کتيبې چې د افغانستان په دننه او د اوسني افغانستان د سياسي کرښو بهر تر لاسه سويدي.

دريم: د دې ليکدود د لوستلو لپاره چا زيار ګاللئ او د کومو معيارونو پر بنسټ يې د دې ليکدود اوازونه پيداکړيدي ؟

ژبپوهانو د دې لرغوني ليک د لوستلو لپاره د يوناني ژبي مفاهيم معيار ګرځولي دي. د لومړي ځل لپاره په ۱۸۳۰ زيږديز کال د مسکوکاتو پر مخ د يوناني ليکدود او خروشتهي ليکدود ګډ ليکونه ولوستل سوه، لومړی د مسکوکاتو يوناني ليک ولوستل سو او بيا د يوناني ژبي څخه ترلاسه سوئ تعبير د خروشتهي ليکدود لپاره هم ومنل سو، له هغه وروسته د خروشتهي ليکدود د پوهېدلو لپاره د يوناني ليکدود او ژبي کاريدل معياروګرځيدل. د نړی د بيلا بيلو هيوادونو څخه بيلا بيلو ژبپوهانو او لرغونپوهانو د خروشتهي ليکدود په اړه څيړني او پلټني کړيدي، چې د بيلګي په توګه د يوشمير نومونه را يادوو : د خروشتهي ليکدود زيات شمېر کتيبې او ليکني د انګلېسي لرغونپوه مسون په زيار د (د څېړنو مهال د۱۸۳۳ څخه تر ۱۸۳۵ زيږديز کال پورې) پيژندل سوي او تر لاسه سويد ي. سر اورل ستاين (د څېړنو مهال د ۱۹۰۰ څخه تر ۱۹۱۳ زيږديز کلونوپوري ) راپسون (د څېړنو مهال د ۱۹۱٤ څخه تر ۱۹٤۷ زيږديز کلونو پوري) او زيات شمير نوربهرني څيړونکي يادولای سو چې د خروشتهي ليکدود په پيژندلو، پيدا کولو او لوستلو کي ارزښتمنه ونډه اخستې ده. د دې تر څنګ يو شمير کورنيو پوهانو او څېړونکو هم د دې ليکدود په اړه هر اړخيزي څيړني او پلټني تر سره کړيدي چې د علامه حبيبي، استاد کهزاد، مرحوم دوست شېنواري او پوهاند داکتر الفشاه ځدراڼ نومونه تر ټولو وړاندي د يادولو وړ دي .





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د خروشتهی لیکدود یوه بیلگه په لاهور موزیم کی ( د صوات حروشتهی ډبر لیک )



د خروشتهی لیکدود یوه بیلگه چی د حیوان پر پوستکی لیکل سویده



په لاهور میوزیم کی د خروشتهی لیکدود په اړه د میوزیم د مشر څرگندونې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ



پر مسکوکاتو د خروشتهي ليکدود   دوې بيلګي ( د ختن واکمن Gurgamoya ګورجا مويا )
د خروشتهي ليکدود په اړه  ويکيپيديا دا ټکی ثبت کړيدی.

**Inscriptions and documents in Kharosthi have been found over a broad area in Afghanistan.To the far west and north west, we can now add to the handful of inscriptions known to Konow, several more specimens from sites along the Kabul River in Afghanistan as far west as Wardak or Khawat, some 20 miles west of Kabul. Recent archeological excavations have also yielded numerous Kharoshti inscriptions from north of the Hindu Kush, in ancient Bactria, both in sites in northern Afghanistan such as Qunduz and in several places in the former Soviet republics of Uzbekistan and Tajikistan.[7]**

ژباړه : د خروشتهی ليکدود بيلګی (اسناد ) د افغانستان  د ختيځو سرحدی کرښو  ( د هند موقعيت  ته په پام - ژباړونکی  )په  لويدځ  او شمال لويديځ سيمو کی موندل سويدی.  يو شمير دا ليکونه لوستل سوی او او په بشپړه توګه پيژندل سويدی.دا ليکدود په کلی توګه د افغانستان دکابل حوزې په زياتو ځايونو کی موندل سويدی، او بيا په ځانګړې توګه د کابل ښار  شل کيلومتری واټن  د وردک ولايت په خوات او همدا ډول  د هندوکش په شمال د لرغونی باختر په کندوز کی هم تر لاسه سويدی. د خروشتهی ليکدود بيلګی د اوزبکستان او تاجکستان په يو شمير سيمو کی هم تر لاسه سويدی.
خروشتهی ليکدود د افغانستان د لرغونی تاريخ د بيلا بيلو پيښو د پوهيدلو لپاره خورا ارزښتمن ليک دی چې د کنشکا او د هغه د زوی هوويشيکا د واکمنۍ پر مـهال  (۱۴۹- ۱۸۲ ميلادی) يی يوه بيلګه په خوات کی  ليک سوېده.  دا ليک پر يوه لوښي په دريو بشپړو او بله نيمه کرښه کې حک سوی دی.
د ليکنې متن مذهبي هدايتونه دی او په هغه کي د ترحُم او محبت الهام له ورايه څرګنديږي.
دا ظرف په ۱۸۳۸ ميلادی کالانګليسی لرغونپوه چارلس مسن د وردګ ولايت په خوات سيمه کې وموند او اوس په بريټشن موزيم کې ساتل کيږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د لیک پښتو متن :
(په ۵۱ کال او ۱۵ تاریخ ارتمي سیوس کمه ګولیه د ګرومریګه ځای ناستی په خوات کي میشت سو او د ساکانومي په وياړ يي د ویهاره او ګرومریګه په ستوپه کي د يادښت يوه بيلګه جوړه کړه.په دي توګه دي ستره نيکمرغي او خوشحالي وي، او په دي نيکمرغی کي دي د هوويشکه ونډه ډيره وي.)



د خوات د لوښی يو انځور چي اوس په بريتش ميوزيم کی ساتل کيږی.

دا لرغونی لوښي د وردک ولايت دخوات په يوې بوداي ستوپه کي موندل سويدی. ښايي دا لوښي د نذر په توګه د دويمي ميلادي پيړی په وروستيو کي ايښودل سوی وی، دالوښي دګندهارا د تمدن يوه نښنه ده.

اخځونه :

۱ - حبيبي، عبدالحی. تاريخ خط و نوشته های کهن افغانستان . چاپ دوم. ۱۳۷۷.
۲ – الفشاه، ځدراڼ. کتيبه ها ومسکوکات افغانستان. ( کابل : پوهنتون کابل ) ۱۳٦۷.
۳ – باوري، رسول .د افغانستان لومړني مدنيتونه) .کابل : کابل پوهنتون ( د علمي رتبي تيزسس .۱۳۷۳ .
۵ – بيلا بيل ويب سايټونه
www.dkpdindia\www.booksformind.com\www.ancientscripts.com
او يوشمير نور .

6- *The Afghans*, Willem Vogelsang, p.186, Blackwell Publishers Ltd




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ